محمد اقا شېرزاد
۱۳۹۰ د چنګاښ ۲۷

# محمد هاشم وطنوال هم د وطن څخه قربان شو

درنو دوستانو او د شهيد محمد هاشم وطنوال د کورنۍ غړو او دوستانو !
په ډېره خواشينۍ مو خبر تر لاسه کړ چې د افغانستان د خوار او ځورېدلي ولس يو رېښتينى خدمتګار په خلکو او ولس مين انسان زما ګران او نږدې دوست محمد هاشم وطنوال، د ټول افغان ولس وطنوال ، د مکار، وطن خرڅونکي او د پرديو د لاس پوڅو دوښمنانو په ناځوانمردانه يرغل کې پرون 2011-07-17، ۱۳۹۰ د چنګاښ په ۲۶ شهيد شو او له دې فاني نړۍ يې د تل لپاره سترګې پټې کړې.
درنو دوستانو.
نږدې ۲۷ کاله وړاندې ما د شهيد وطنوال سره پېژندګلوي پيدا کړه. په دې ۲۷ کلونو کې ما دده سره يوه ورځ او يوه شېبه داسې پيدا نه کړه چې زه او دى سره خوابدي شو. د يوې ورځې نه بلې ته مو ورورولي، ملګرتوب او رېښتونلي زياتېده. ګران وطنوال د پوره حوصلې خاوند ، همېشه به يې د کورنۍ ، ملګرو، د خپلو همکارانو او ټول ولس سره په خندا ، مينه او پوره رېښتونلۍ ژوند کاوه.
زه او شهيد وطنوال د بعضې سياسي مخالفتونو له امله دوه ځلې د زندان ملګري هم پاتې شوي يو. زموږ دواړو ملګرتوب په پوره ورورولۍ بدل شوى و. همېشه به مو يو د بل سره د ژوند په چارو کې سلا او مشوره کوله.
زما به نه وي ياد چې کله ما يو وړانديز کړى وي، شهيد وطنوال به يې مخالفت کړى وي. موږ د سياسي کارونو په اړوند ډېرې لوړې ژورې تېرې کړې او تل به مو د خلکو او وطن په خاطر د روڼ اندو د يووالي لپاره هلې ځلې کولې. او په دې لاره کې شهيد وطنوال ډېرې هلې ځلې کولى، تر څو د روڼ اندو او ولس ترمنځ رېښتينى يووالى تامين شي.
شهيد وطنوال همېشه ځانته دا حق نه ورکاوه چې ګويا دى مشر و ، يا مشر پاته شوى و. دده به همېشه ځان د نورو څخه لوړ نه باله او په خورا ملګرتوب او په پوره حوصله به يې د خلکو ستونزې توضيح کولې. د خلکو سوالونو ته به يې ځوابونه ويل. دى همېشه ډېر مهربان او هيڅ‌ا دده قهر او غوسه نه ده ليدلى. ټول عمر به يې خوله له خندا ډکه، او د خلکو درناوى به يې د زړه له کومې کاوه. ډېر مهربانه او زړه سواندى انسان و.
شهيد وطنوال د خلکو سره ډېره مينه درلوده، بالخصوص د تنکيو ماشومانو سره.
شهيد وطنوال د افغانستان په سطحه عالي تحصيلات درلودل ، تر تحصيلاتو وروسته يې پخپل ولايت روزګان کې د سوپر وايزر، د ګوندي ولايتي کمېټې مسئول ، د هرات ولايت مصتوفي، د لوګر ولايت د ګوندي ولايتي کمېټې منشي، د خوست ولايت د ولايتي ګوندي کمېټې منشي، د کورنيو چارو وزارت اداري رئيس، د ټولګټو په وزارت کې د يوې څانګې رئيس، د ګوند د مرکزي کمېټې د محلي ارګانونو رئيس.
د اوسني دولت په پارلمان کې دوه دورې د روزګان د خلکو استازى پاتې کېدل.
شهيد وطنوال داسې ولسي خصوصيت درلود چې هر ولايت يا هره سيمه کې به يې دنده درلوده د هغې سيمو ولسونو سره به يې يوه خاصه رشته جوړوله او د سيمو په خلکو خورا ګران و.
د بېلګې په توګه د روزګان خلکو دده دښه کار او صداقت په نتيجه کې نوموړى دوه ځله د اوسني دولت پارلمان ته انتخاب کړ.
درنو دوستانو !

شهید وطنوال یو حقیقي مبارز او خلکو رینبتینی دوست و . دده ټول مصروفیت او هلې ځلې د خلکو د ژوند د سوکالۍ او په ګران افغانستان کې د تلپاتې سولې رامنځته کېدل وو.
نوموړی یو پاک، مظلوم او وطندوست انسان و . دده عشق او علاقه همدا وه چې کله او په کوم ډول به افغان ولس ددې بدمرغۍ او کړاونو څخه خلاص شي . دده سپېڅلی ارمان دا و چې په ګران هیواد افغانستان کې تلپاتې سوله راشي . ولس ارام او هوسا ژوند ولري . دده ارمانونه او ژوند خاطرې ډېرې زیاتې دي ، په اوسني حالت کې زه ددې توان نه لرم چې د هغهٔ ټول ارمانونه، خاطرې او خبرې ولیکم. خواوس همدومره وایم چې د وطنوال صاحب شهید کیدل دده کورنۍ، دوستانو اود افغانستان خلکو ته ستره ضایع ده.
په پای کې زه د خپلې کورنۍ ، ملګرو او دوستانو په نماینده ګۍ دده محترمې کورنۍ، دده دوستانو او علاقمندانو ته د لوی خدای ج په دربار کې د جمیل صبر او شهید وطنوال ته د جنت فردوس غوښتونکی یم.
قالو انالله و انا الیه راجعون.
د شهید وطنوال ځینې یادګاري انځورونه چې زما سره موجود و:






زه او شهید وطنوال ، د ۱۹۹۸ م کال د جنورۍ ۲۶ ، مالمو سویډن.




زه او وطنوال صاحب په لندن کې د یو دوست په کور کې، ۲۰۰۰ م کال




زه ، شهيد وطنوال او ښاغلى خيرمحمد سلطاني په لندن کې ، ۲۰۰۰ م کال




شهيد وطنوال، انجينر صاحب عبدالباقي لعلي او زه ، هالند ، ۲۰۰۱ م کال دسمبر




زه ، شهید وطنوال او ښاغلی خیرمحمد سلطاني په لندن کې ، ۲۰۰۰ م کال




زه ، شهید وطنوال او ښاغلی همایون زېری په‌لندن کې ، ۲۰۰۰ م کال




شهید وطنوال، عبدالنبي الهام او د وطنوال صاحب ډرایور ګل، طورخم ۲۰۰۹ د اکتوبر ۲۲




شهید وطنوال، عبدالنبي الهام او د وطنوال صاحب ډرایور ګل، طورخم ۲۰۰۹ د اکتوبر ۲۲



شهید وطنوال، عبدالنبي الهام او زه، طورخم ۲۰۰۹ د اکتوبر ۲۲